مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۱۰/۲۴

# سترګې



زما د لید عینکي
یوازې دوه کړکۍ
او دوه رڼې هینداري نه‌دي
اوس ما ته دوی وايي، چې دغه نړۍ څنګه ښکاري؟
زما د لید عینکي
اوس ښېلوي هرڅه چې شته که نه‌شته
هستي اوس دوه برخې ده
څه برخه دیخوا
او
بله برخه د عینکو ترشا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زما د رڼو هیندارو ژبه نه‌زده
چي مي عینکو نه پوښتنه وکړم:
هغه دونیا چي د ښیښو له شا نه ماته ښکاري
ریښتیا همدغسي ده؟
د پاڼو رنګ ولي زرغون دی؟
او اوبه رڼي دي؟
زوی ته د مور لیرلي لیک کي توري ولي ناڅي
او توتکی چي راځي
د پیغلو نجونو تر پوټکي لاندي څه شی ځغلي؟
زما د رڼو هینداور ژبه نه‌زده
که نه عینکو نه مي پوښتمه چي
په تاسو څه باور که هاخوا دونیا
دومره بې‌خونده نه‌وي
چي مار هم ښکلی وي
او تور کارغه هوښیار مرغه وي
په تاسو څه باور چي ژمی یخ دی؟
که زما پوټکی نور زما وجود کي نه‌خاییږي؟
په تاسو څه باور چي تیرې حافظه نه‌لري
او که زه نه‌یم، زمان نه‌تېریږي؟
که زما زده وای د هیندارو ژبه
نو ما به پوښتي وای چي
زما ترعینکو هاخوا
د ژوند په نوم چي څه روان دي،
ولي خړ بهیږي؟
د رنځ د ختې رنګ ریښتیا همدا دی؟
نو دومره ویني چي توییږي څه شوې؟
رنګونه توري او هجاوې دي د هغې دروغجني ژبې
چي زما عینکي پرې خبرې کوي،
خو زما یاده نه‌ده.
زما په عینکو کي رڼو هیندارو!
چي ستاسو ژبه مي لا یاده نه‌ده
او د رنګونو الفبا چاته ریښتیا نه وایي
ګني نو ما به درنه پوښتي وای چي:
کومه دونیا ریښتیا ده؟
هغه چي دیخوا تر ښیښو زما په ذهن کي ده
که د عینکو تر ښیښو ورهاخوا
چي زه یي بې‌هیندارو نه‌شم لیدی؟
زه د رنګونو الفبا نه‌منم
نو ما به څوک قانع کړي؟
که د عینکو ترشا هیڅه نه‌وي؟؟؟
او دغه هرڅه د عینکو او رنګونو له بې‌پایه حافظې راوځي؟
زه له دې سترګې یم چي هره شیبه
په رېږدېدلو ګوتو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

خپلې عينکې موښم
که چېرې پاکې شي د شک له خيرو
ښيښې خيرنې دي،
که زما پر ليدو ګرد پرېوتی؟
زه په ښيښو کې هم باور لټوم
خو ترعينکو دېخوا
هرڅه زما خپل دي او هېڅ رنګ نه لري
زه ترعينکو دېخوا خپله نړۍ
په خپلو سترګو وينم
زه مې يوازې په خوبونو پوخ باور لرمه
زه مې خوبونه بې عينکو وينم
زه مې خوبونه په دې خپلو تورو کسيو ګڼم
ما ته ريښتيني څه
يوازې زما خوبونه ښکاري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ